عزیز چوپان (ویسا) ۲۰۱۸/۱۰/۲٤

# جنرال عبدالرازق له هېواد او هېوادنیو
# ګټو نه د دفاع قرباني

په ۹۷/۷/۲۵ نېټه د ولسي جرګې د غرې عبدالجبار قهرمان د وژل کېدو خبر خپور شو، نوموړی د وطن ګوند غړی او د ډاکتر نجیب له نژدې پلویانو نه و او په دې نژدې ورځو کې یې بیا د هغه د مره ګوند د را ژوندي کولو له پاره کوښښونه شروع کړي وو او د ولسي جرګې اوولسمې دورې ته هم له هلمنده کاندید و؛ خو مرګ یې ځکه یو بد زېرې و چې یو خو له هغه سره په دې وروستیو کې یو ملي فکر پیدا شوی او د هغه ټول تحلیلونه پر همدې محور څرخېدل او بل دا چې د هېواد د دښمنانو په لاسو ووژل شو، البته دلته زما اشاره طالبانو ته نه ده؛ بلکې هغه چا ته ده چې د افغانستان په ورانولو پسې یې ښېل او کلنګ را اخستي دي. که هغه د هر چا په لاسو ووژل شو؛ خو شا ته یې د بهرني دښمن لاس و.

د دې پېښې پر سبا یعنی ۲٦/۷/۹۷ نېټه یوه بله داسې پېښه رامنځته شوه چې پرونی پېښه یې له خلکو هېره کړه او هغه د هېواد د یوه اتل بچي جنرال عبدالرازق شهادت و چې د کندهار د ملي امنیت رئیس جنرال مومن حسین خېل هم ورسره شهید شو. جنرال عبدالرازق په ۲۰۰۲ م کې په افغان پوځ کې شامل شو؛ خو په دغه پنځلس شپاړس کالو کې د خپل استعداد له برکته د ډګر جنرالۍ تر رتبې پورې ورسېد. هغه ډېره کاله د کندهار امنیه قوماندان پاتې شو چې تر شهید جنرال خان محمد وروسته یې چې د یوه ځانمرګي په وسیله شهیدا کړای شو دا دنده اشغال کړه. که څه هم هغه د عمر له پلوه هم د کمر عمر خاوند و او کومې تخصصي نظامي زدهکړې یې هم نه وې کړې؛ خو استعداد خو بیا جلا شی دی چې خدای پاک چا ته ورکړی وي. جنرال عبدالرازق یو با جرأته، با استعداده او پر هېواد مین جنرال و چې ثاني به یې په ګرانه وموږ. هغه نه یواځې د کندهار او جنوب غرب حوزې له پاره؛ بلکې د ګرد افغانستان له پاره په نظامي ډګر کې یوه ښه او بې جوړې الګو وه. لکه څرنګه چې جنرال زړور ذاهد د یوې خطرناکي کورنۍ-بهرنۍ توطیې ښکار شو؛ خو د افسوس خبره دا ده لکه څرنګه چې د استاد رباني د شهادت، بیا د جنرال زړور زاهد د شهادت په باب تحقیقات و نه شول او ولس یې پر اصلي حقیقت خبر نه شو، دغسې به یقین دی چې د جنرال عبدالرازق د شهادت مسأله هم پټه پاتې کېږي. که څه هم په ۲٦/۷/۹۷ نېټه ولسمشر د امنیت رئیس معصوم ستانکزی او د کورنیو چارو وزیر ویس احمد برمک کندهار ته واستول چې د جنرال عبدالرازق د تدفین په مراسمو کې هم برخه واخلي او د شوې پېښې په اړه چې جنرال عبدالرازق پهکې شهید شو او دغسې د امنیت رئیس هم پهکې شهید شو او والي زلمی ویسا پهکې ټپي شو او یو شمېر نور زخمیان شول؛ څېړنه وکړي خو زه په سلو کې سل پر دې باور لرم چه پر دې موضوع به هم خاورې


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

واړول شي؛ ځکه ولسمشر غني دا جرأت نه لري چې د دغسي پېښې ريښتيني تحقيقات وکړي او له ولس سره يې شريک کړي؛ لکه چې د استاد رباني او جنرال زړور زاهد د شهادتونو پېښې پټې پاتې شوې دا به هم همداسې پاتې کېږي. متأسفانه دا د دې هېواد تاريخي حقايق دي چې چا ورته خدمت کړی، هغه د خپل خدمت لويه بيه ادا کړې لکه چې د انګرېزانو د لومړي او دوهم يرغل پر وړاندې چې زموږ د هېواد کومو قهرمانو بچيانو لکه غازي محمد اکبر خان، غازي محمد شاه خان بابکرخېل، نايب امين الله لوګري، غازي محمد جان خان وردګ او نور قهرمانانو ادا کړه دغسې د امان الله خان له تېروتنو سره سره او د وخت حساسيتونو ته له نه پام سره سره، هغه د هېواد د استقلال وګاټه؛ خو انګرېزانو بالاخره هغه د تکفير پر پوله ودراوه او دا يې يو ضرورت و؛ که امان الله خان يې تکفير کړی نه وای؛ نو هغه څوک به څه ډول د خدای د دين خادم نومول کېده چې د ده پر خلاف يې را پاڅاوه، حال دا چې هغه بغدادي سيپاره هم نه وه ويلې؛ خو لوی لوی علمي، قومي او سياسي شخصيتونه يې د هغه په رکاب کې وځغلول او د هغه د تأييد له پاره يې د هغه تر شا ودرول او که نه دا اوس ولې څوک په هغسې اجراأتو تکفير نه شول. زما هدف دا دی چې دا له يوې خوا د افسوس خبره ده خو له بلې خوا د نهيلۍ خبره په دې نه ده چې دا په دې هېواد کې يو قانون پاتې شوی. دلته خو هغه د «کار کرده، گناه لازم» خبره ده. دلته هغه چا ګټه کړې چې د هېواد پر ملي ګټو او ځمکنی بشپړتيا يې معاملې کړې دي.

له بلې خوا اوس يوازې په افغانستان کې هم دا خبره نه ده. زه به دلته تقريباً يوه تاريخي غوندې کيسه وکړم. يو وخت ما د پاکستان په مطبوعاتو کې ولوستل چې جنرال ضياءالحق چې هغه وخت د پاکستان ولسمشر و، ځان د امريکا تر ټولو لوی آسيايي دوست ګڼی. دا نو داسې وخت دی چې پخواني شوروي پر افغانستان بريد کړی او پاکستان هم په خطر کې دی او د روسانو په مقابل کې افغان جهاد ښه په قوت کې روان دی؛ نو ځکه خو جنرال ضياءالحق هم وايي چې: «جهاد افغانستان؛ دفاع پاکستان.» او دا پر يوه حقيقت اعتراف و چې ضيا کاوه چې اوس هم ورته کورودانی وايم؛ ځکه دا اوسني خو پر دې خبره اعتراف نه کوي. يو وخت راغی چې محمد خان جونيجو د پاکستان صدراعظم دی، پر هغه سياسي فشار راغی چې د افغانستان مسأله يوې خوا ته کړي؛ نو هغه ټول ګونديز کنفرانس (آل پارتيز کانفرنس ) را وغوښت او ټول په همدې سلا شول چې د افغانستان قضيې ته يوه لاره پيدا کړي. خو جنرال ضيا له دغه حرکت او دغې طرحې سره نه و موافق؛ ځکه هغه نه غوښتل چې افغان جهاد او مجاهدين په هغه برخليک اخته شي لکه چې تر ضيا وروسته اخته شول. د جونيجو د دې دريځ له لامله هغه (جونيجو) د ژنو کنفرانس ته خپل استازی زين نوراني د ګډون له پاره واستاوه او هلته يې له هغې طرحې سره موافقه وکړه چې امريکا او شوروي غوښتل او له کابله هم ورته د نجيب د بهرنيو چارو وزير شاه محمد دوست ورغلی و. تر دې کنفرانس وروسته جونيجو خپله شمله کړه اينوده خو د ۱۳۸۸ د مې پر ۲۹ مه چې کله هغه د څو هېوادو له يوه سفره اسلام آباد ته راستون شو؛ نو ضياهغه له هوايي ډګره نېغ خپل کور ته واستاوه او د عظمی صدارت کيسه يې ورختمه کړه. جونيجو خو ولاړ؛ خو په ژوندانه ولاړ؛ خو جنرال ضيالحق به په مرګ استول کېده؛ ځکه هغه نور د امريکا او روس د هغه سياست په مخ کې خنډ و چې په ژنيو کې پرې توافق شوی و؛ نو همغه و چې د ۱۹۸۸ د اګست پر اوولسمه کله چې د هغه د سپرلۍ الوتکو له بهاولپوره، اسلام اباد ته را ستنېده د ستلج د سيند پر غاړه را وغورځول شوه او د ده په شمول د الوتکې ټولې سپرلۍ ووژل شوې او په دې توګه د هغه سياست پلې کېدو ته لاره اواره شوه چې امريکا او روسانو پرې توافق کړی و. البته بې له شکه په دې پېښه کې کورني لاسونه هم و؛ خو د پاکستان راتلونکي حکومت هېڅکله په دې اړه تحقيقات و نه کړای شول

او له پاکستاني ولس سره شریک نه کړای شول؛ ځکه د توطیي تر شاه لاسونه خو معلوم و او د پاکستان حکومت د هغو نوم نه شو اخستلای.
همدغسې یوه مسأله د جنرال عبدالرازق د شهادت تر شا هم ده چې د غني کمزوری او بلواکی حکومت هېڅکله هم نه په دې اړه ریښتیني تحقیقات کولای شي، نه اصلي قضیه ملت ته وړاندې کولای شي. لکه چې د ډاکتر عبدالله پرونۍ ۹۷/۷/۳۰ څرګندونې یې ښه بېلګه ګڼلای شو. عبدالرازق په کندهار کې یو نسبي امن راوستی و او د پاکستان د وسعت طلبانه سیاست پر وړاندې یو کلک او مقاوم سنګر و. هغه په همدې شپو کې هم په ښوراوک او خواوشا سیمو کې د پاکستان له خوا د ډیورنډ کرښې په نامه د اغزن سیم د تېرولو سخت مخالف و. له عبدالرازق سره د جنرال ضیا په څېر لوی سیاسي پلانونه نه و، خو هغه لږ تر لږه د پاکستان د بدماشیو پر وړاندې سپر و. دلته باید دا خبره په ډاګه کړو چې امریکا او انګلیس همېشه خصوصاً د ډیورنډ کرښې په اړه د پاکستان د دریځ ملاتړ کړی دی. زه باور لرم چې دا امریکا وي، دا انګلیس، دا پاکستان او دغسې د افغانستان ډارن او معامله ګر حکومت د جنرال عبدالرازق په څېر به په دغسې مجلسونو کې پر هېواد مین افغانان وژل کېږي او د جنرال سکاټ مېلر غوندې کسان به سهي سلامت په خپل هلیکوپټر کې خپل مرکز ته رسېږي. زه پر افغان ولس غږ کوم چې دا دومره ساده پېښنه نه وه چې طالب دې غږ وکړي چې دا کار موږ کړی. دلته سړي ته د ښاغلي حکمتیار هغه خبره ور یاده شي چې د طالبانو لهخوا د دغسې پېښو مسؤولیت پر غاړه د اخستلو نتیجه دا راوځي چې د مسألې اصلي پل ورک شي چې دا پېښنه چا ترسره کړې. لنډه دا چې جنرال عبدالرازق د وطن شهید دی او باید په همدغه نامه ونومول شي؛ خو هغه د دغه بې کفایته حکومت د بې کفایتیو او شرېکې توطیي په نتیجه کې شهید شو، نه یواځې دی؛ بلکې د ده په څېر ډېر پر هېواد مین شخصیتونه. دا چې د کندهار په وروستۍ پېښنه کې د جان سکاټ مېلر په شمول د یوه امریکاي پوزه نه ګرول کېږي؛ ځکه ویلی نهشي، خو د هېواد ریښتیني بچیان وژل کېږي، لوبه معلومه ده؛ خو افسوس پر یوه دغسې بې کفایته حکومت. په دې پېښنه کې د ملي تلویزیون د خبریال وژل کېدل او د هغه کامره له منځه وړل خبره نوره هم روښانوي. حکومت هېڅکله هم د دغسې پېښو په اړه ریښتیا نه وایي؛ خو ملت باید پر دې پوه شي چې دلته څه لوبې رواني دي او په څومره بېحیایۍ رواني دي. افغانان آخر دې نتیجې ته رسېږي چې د امریکا په شمول ټول خارجي ځواکونه باید له افغانستانه ووځي. د ډاکتر رمضان بشردوست خبره چې د ډاکتر خلیلزاد او جنرال سکاټ مېلر د تقرر نتیجه دا شوه چې د افغانستان د درې جنرالانو (جنرال عبدالجبار قهرمان، جنرال عبدالرازق او جنرال مؤمن حسین خېل) جنازې پاکستان ته د یوې تحفې په توګه وړاندې کړې.

پایان